# پرمختیا

UNDP Afghanistan

کڼه: ۹، ۱۰ /۰۸

اپریل ۲۰۰۸

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې میاشتنۍ خبرپاڼه


## په دې ګڼه کې:


د ولسي جرګې ۷۰۰ اداري کارمندان د تادیاتو د جدول له کمپیوټري سیستم سره ونښلول شول ۲

تر ۶۰۰۰ ډیرو ولسي استازو په محلي مشورو کې برخه اخیستې ده ۳

له هغو سره مرسته چې د کار په لټه کې دي ـ انځوریزه کیسه ۵ ۶

د سیسکو اکاډمی افغان ځوانانو لپاره نوې فرصتونه برابروي ۷

د ښځو نړیواله ورځ ۲۰۰۸ ۹


## وتلی افغان سندغاړی فرهاد دریا د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د ښه نیت د ملي سفیر په توګه وټاکل شو

نامتو سندغاړی، هنرمند او د بشري حقونو مدافع فرهاد دریا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د ښه نیت د ملي سفیر په توګه ټاکل شوی دی. دغه ټکی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې د استوګن استازي ښاغلي بو اسپلنډ له خوا اعلان شو.

سازونو ترکیب او اواز ته یې یوه نوې ښه ورکړې ده. خو د ژوندانه په نورو برخو کې د ده د کار او ونډې له امله دی یوازې یو موسیقي دان نه بلکې له دې هم پورته دی. دی د بشري حقونو مدافع دی او د له پامه غورځول شوو ډلو د حقونو د خوندیتوب په ګټو ملي او بین المللي پروژو او

نسل لپاره د ښه کردار یو مثال دی د خپلو سندرو او شخصیت په مټ نړۍ ته افغانستان د شخړو او مایوسی د هېواد پر ځای د هیلو او امیدونو د هېواد په توګه ورپېژندلی دی. مور هیله لرو چې له دریا سره به د هېواد په ګوټ ګوټ د سولې او پرمختیا د




*فرهاد دریا او د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې استوګن استازی او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي مرستیال بو اسپلنډ*

© د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره

فرهاد دریا د اتیایمې لسیزې تر نیمایي راهیسې یو له هغو سندرغاړو څخه دی چې پر خلکو یې ډیره اغیزه شیندلې او د افغانستان په معاصره موسیقي کې د خلاقیت، عشق او بدلون یوه نمونه ګڼل کېږي. دی یو له هغو ګوته په شمار هنرمندانو څخه دی چې د افغان موسیقي دودیز جوړښت، د

فعالیتونو کې ونډه لري.

خبریالانو ته د خبرو پر مهال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې استوګن استازي وویل "د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره ویاړي چې دریا د کورنۍ د یوې برخې په توګه له ځان سره لري. دریا چې د افغانانو د اوسني

پیغامونو د خپرولو لپاره ګډ کار وکړو"

دریا د افغانستان په سترو ژبو او بهرنیو ژبو کې د پام وړ سندرې لیکلې او ویلې دي. ده تل هڅه کړې چې جدا شوي زړونه د موسیقي د وریښمو په تار سره وتړي.

د ده موسيقي د يو ازاد او يو موټي افغانستان ښکارندويه ده. دريا په نړۍ کې د موسيقي او بشري حقوقو په برخه کې د خپل کار په وياړ ګڼې معتبرې جايزې ګټلې دي. ده ته د محرومو ډلو د حقوقو د خونديتوب او ودې لپاره د فعاليت په وياړ په کابل کې د ۲۰۰۶م کال د بشري حقوقو د فعال ملي جايزه ورکړای شوې ده.

د ۲۰۰۷ په نوامبر کې دريا د ملګرو ملتونو له پرمختيايي اداري سره د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو په کمپاين کې برخه واخيسته چې د دغې مسلې په هکله د خلکو د اګاهۍ کچه لوړه کړي او ولسي خلک، په ځانګړې توګه زده کوونکي او ځوانان وهڅوي چې په دغه کمپاين کې فعاله ونډه واخلي. د ده د دغې غوښتنې د ډيرو خلکو زړو ته لاره موندله. دريا پر نارينه وو غږ وکړ چې د بدلون راوستونکو او د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د پای ته رسولو د هڅو د مهمو برخه والو په توګه له نوموړي کمپاين سره يو ځای شي. په کمپاين کې د ده شتون د دولتي چارواکو، زده کوونکو، اکاډميکو کړيو، نړيوالې ټولنې او ولسي خلکو له خوا د پام وړ مثبت غبرګون سره مل وو.

په غونډه کې د خبرو پر مهال دريا وويل ” زه وياړم چې د ملګرو ملتونو له پرمختيايي اداري سره د انسانيت د خدمت په سفتر کې مل يم. مور به په ګډه هڅه وکړو چې د محرومو وګړو حقوق خوندي کړو او د ټولو افغانانو د ښې راتلونکې لپاره لا ډير فرصتونه برابر کړو.“

## د ولسي جرګې ۷۰۰ اداري کارمندان د تادياتو د جدول له کمپيوټري سيستم سره ونښلول شول

د ولسي جرګې د دارالانشاء ۷۰۰ کارمندان د ۲۰۰۸م په مارچ کې د تادياتو د جدول له کمپيوټري سيستم او بانکونو سره ونښلول شول.

د پارلمان خپلواکې، اغيزمنتوب او حساب ورکولو وړتيا د ښو پرمختللو اداري سيستمونو له ودې سره تړلې دي. په دې کې د بشري ځواک مديريت، د فزيکي شتو (دارايي) مديريت او په مالي مديريت کې د ښو کاري دودونو ترويجول د يادولو وړ دي. دغو موخو ته په پام سره د ولسي جرګې د خپلو ماليې، اداري او بشري حقونو په ځانګو کې د کاري ظرفيت پر لوړولو لاس پورې کړی دی.

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پارلماني ملاتړ پروژې هغه بيلابيل پروګرامونه او اقدامات تر څيړنې لاندې ونيول چې د ملي شورا د دارالانشاء د مالي او اداري ظرفيت له لوړتيا سره مرسته کولای شي. د دغې څيړنې په ترڅ کې داسې ۱۳ سپارښتنې په ګوته شوې چې د مالي او اداري سيستمونو له ښه والي سره مرسته کولای شي. يو له دغو سپارښتنو نه د تادياتو د جدول د کمپيوټري سيستم، چې د بانک له لارې په کې معاشونه اجرا کيږي، او د حاضرۍ د کمپيوټري سيستم معرفي کول وو چې د مالي او اداري ظرفيت په لوړولو کې به مهم نقش ولوبوي.

اوس مهال د تادياتو کمپيوټري جدول يوازې د ولسي جرګې د اداري کارمندانو د معاشونو د اجراکولو لپاره برابر شوی او د وخت په تيريدو به د جرګې د غړو معاشونه هم له دې لارې ورکړل شي.

کله چې د تادياتو د کمپيوټري جدول او بانکي سيستم لمن ټول پارلمان ته وغځول شي نو تر ۳۰۰۰ ډير د ملي شورا غړيو او کارمندانو ته به خدمت وړاندې کړي. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پارلماني ملاتړ پروژه د يو اغيزمن پارلمان د رامنځته کولو د هڅو په ترڅ کې غواړي چې په راتلونکې کې د پارلمان په دارالانشاء کې د حاضرۍ کمپيوټري سيستم، د بودجې او لګښتونو سيستم او شتو (دارايي) مديريتي سيستم هم ځای پرځای کړي.

د تداركاتو او بانكي سيستمونو ځای پرځای کول د يو حساب ورکوونکې، روڼ او اغيزمن مالي او ادراي سيستم په لور تګ کې لومړي ګامونه بلل کيږي.

**د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پارلماني ملاتړ پروژې په راتلونکو نوښتونو کې د حاضرۍ کمپيوټري کول او د بودجې او مالي لګښتونو د مديريت د سيستمونو ځای پر ځای کول شامل دي.**

## د افغانستان ملي پرمختيايي تګلاره

# تر ۶۰۰۰ ډېرو ولسي استازو په محلي مشورو کې برخه اخيستې ده

د ټول هېواد په ګوټ ګوټ کې تر ۶۰۰۰ ډېرو ولسي استازو د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې تيارې د يوې برخې په توګه په ولايتي سلامشورو کې برخه اخيستې ده. د برخه والو شمير له ولايت نه تر ولايت پورې توپير درلود، په نورستان کې تر ټولو کم او په بغلان، باميانو او وردګو کې تر ټولو ډير (۲۵۰ کسان) وو. د تيارې په دغو مجلسونو کې د فيصدي له پلوه په سلو کې ۳۸ ښځې او ۶۲ نارينه وو.

دغه مشورتي غونډې په ټولو ۳۴ ولايتونو کې ترسره شوې چې د ښاري او کليوالو سيمو، کوچيانو او نورو تر ګواښ سره مخ ډلو ولسي استازو او د دولت، مرستندويه ټولنې، د ملګرو ملتونو ادارو، نادولتي مؤسسو او مدني ټولنو استازو په کې برخه درلوده. که څه هم د ښځو او نارينه وو د يو برابر برخه اخيستنې موخه ترلاسه نه شوه خو بيا هم د ښځو د چارو وزارت له خوا ټاکل شوې موخې نه، چې ۳۰ فيصده وه، زياته شوه.

د ولايتي مشورو او د ولايتي پرمختيايي پلانونو د جوړولو د بهير موخې درې اړخونه درلودل: لومړی دا چې دولتي چارواکو ته فرصت برابر شي چې ولسي خلکو ته داډ ورکړي چې د افغانستان په ملي پرمختيايي تګلاره کې د ټاکل شوو موخو د لاسته راوړنې لپاره د دوی له خوا طرحه شوې تګلارې د عامو خلکو اړتياوو او لومړيتوبونو ته ځواب وايي؛ دويم دا چې ولسي خلک وهڅول شي چې د خپلو ولايتونو د پرمختيايي پلانونو په جوړولو کې برخه واخلي او دريم ادا چې ولايتي پرمختيايي پلانونه جوړ شي چې د اړوند ولايت موهمې پرمختيايي اړتياوې او لومړيتوبونه په ګوته شوي وي او په دې توګه دولت، مرستندويان، نادولتي مؤسسې او ولسي خلک د پرمختيا لپاره موجودې سرچينې په اغيزمنه توګه مصرف کړي.

په دغه ټول بهير کې بې ساري هڅه شوې وه چې په مشورتي غونډو کې ښځو ته ونډه ورکړای شي او په بحثونو او خبرو اترو کې يې نظرونه واوريدل شي. له لوجستيکي پلوه د ښځو د زياتې برخه اخيستنې لپاره د ښځو د برخه اخيستنې ځانګړې اړتياوو او شرطونو ته پاملرنه ضروري وه لکه د محرم شتون او د اوسېدو مناسب ځای او ترانسپورټ.

په څلورو ولايتونو- کندهار، زابل، نورستان او هلمند کې د ځايي خلکو په غوښتنه د ښځو او نارينه وو لپاره بېل بېل ځايونه برابر شوي وو. خو په زابل او کندهار کې ښځو غوښتنه وکړه چې د پرانيستنې او پای په مراسمو کې له نارينه وو سره يو ځای کيني چې د دوی دغه غوښتنه ومنل شوه. په پاتې ولايتونو کې ښځې او نارينه يوځای ناستې او يو برابر يې په مشورو کې برخه واخيسته.

کلتوري خنډونه اوس هم په مشورتي بهيرونو کې د ښځو د برخه اخيستنې په وړاندې خنډ ګرځي. د مشورو او پلان جوړونې په هر بهير کې د ښځو د برخه اخيستنې په برخه کې ځانګړې ستونزې وي.

د بيلګې په توګه په ډيرو ولايتونو کې نارينه برخه والو هڅه وکړه چې د کلتوري مقاومت او دودونو د رعايت کولو په پلمه د خپلو ولسواليو استازيتوب ډير کړي، دوی به ويل چې د ښځو برخه اخيستنه نه غواړي او بيا به يې غوښتنه کوله چې د ښځو ځای دې د دوی د ولسوالۍ نارينه وو ته ورکړای شي.




د ولايتي مشورو او ولايتي پلان جوړونې غونډې د دولت او ولسي استازو تر منځ د پرمختيايي تګلارو په اړه د خبرو اترو لپاره ښه موقع وه. دغو غونډو همدارنګه د مشارکتي پريکړو بهيرونو ته وده ورکړه چې د سيمه ييزې پرمختيا ملي پروګرام يې په ټول هېواد کې د ولسواليو د پرمختيايي شوراګانو او ولسواليو پرمختيايي پلانونو د بهيرونو له لارې پلي کوي.

اوس ننګونه دا ده چې دغه خوځښت په ځانګړې توګه د ښځو د برخه اخيستنې له پلوه دوام وکړي.

## د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري په مرسته د ښوزلی ترسره شوي ارزونه اساسي خدمتونو ته د خلکو د ښه لاسرسي لپاره د هڅو د دوه چنده کولو غوښتنه کوي

تمه کيږي چي په افغانستان کي په ازميښتي ډول د ښوزلی د مشارکتي ارزوني وروستنی ريوټ به، چي د اپريل پر ۲۱مه خپرېږي، د ښوزلو د پانګي او خدمتونو ته د لاسرسي په اړه معلومات وړاندي کړي. دغه ريوټ به د افغانستان له بېلابېلو سيمو نه د ښوزلی د تحريکوونو، دوام ورکوونکو او مخه نيوونکو عواملو په اړه يوه هر اړخيزه بياکتنه وړاندي کړي.

پاکو اوبو، باکيفيته زده کړو او باکيفيته روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی، د اوږد مهاله کار فرصتونو ښه والی او د مناسبو لويو لارو زياتوالی ځيني له هغو کارونو څخه دي چي د پورتني ريوټ د ارزوني يوه برخه جوړوي.

ريوټ به د دولت پام د طبعي پيښو د خطرو د کمولو اړتيا ته راواړوي او د سيلابونو د کنټرول د اقداماتو په اړه به ځانګړي معلومات ولري او همدارنګه د طبعي ټکانونو، اوږد مهاله او موسمي بدلونونو د اغيزو په وړاندې د مقابلي لپاره به د پراخو حفاظتي پروګرامونو غوښتنه وکړي.

د باوري سرچينو د معلوماتو پربنسټ، په ريوټ کي د ښوزلو لپاره د يو ستر لومړيتوب په توګه د باکيفيته محلي روغتيايي خدمتونو پر اړتيا ټينګار شوی دی. د ميندو د روغتيايي خدمتونو د پراختيا، د درملو د کنټرول او د روغتيايي کارکوونکو مسلکي کولو ته د ځانګړې پاملرني اړتيا ترسترګو کيږي. عامه روغتيايي خدمتونه بايد د استفاده کوونکو لپاره مناسب او اسانه وي او په وړيا روغتيايي خدمتونو کي بايد پټ لګښتونه کم شي.

د ښوزلو له خوا باکيفيته محلي زده کړو ته لاسرسی د يوې بلې اساسي اړتيا په توګه په ګوته شوی دی. معلومه شوې چي د ښوونځيو د ښوونکو له خوا په ناقانون ډول پر ښوونځيو د ويشل شوو توکو د خرڅلاو د مخنيوي او د ښوونکو د ظرفيت د لوړولو سپارښتنه شوی ده.

زدکړو او روغتيايي خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي زياتونه د ښځو د تحرکاتو د محدوديت او د ښځو د سلوک په اړه تړلي منفي تصوراتو په وړاندي مبارزې سره تړلي ده.

ريوټ په داسي حال کي چي د ټولني ټولو قشرونو ته د پاکو اوبو د منابعو د جوړوني او ساتني د چټکولو غوښتنه کوي، دا خبره هم روښانه کوي چي پاکي اوبه د ښوزلو وګړو د غوښتونو په سر کي ځای لري. د ښوزلو د ارزوني د ريوټ د برابرولو په ترڅ کي له پوښتل شوو برخه والو نه داسي جوتيږي چي امنيت او د قانون واکمنی، د لويو لارو په ګډون بيخبنايي چارو، د کار د فرصتونو د زياتوالو، د اوبو لګولو او ذخيره کولو او د طبعي پيښو د خطرو د کمولو او غبرګون د لارو چارو په برخه کي ښه والي راوستلو ته اړتيا ده.

## له هغو سره مرسته چې د کار په لټه کې دي - انځوريزه کيسه

په افغانستان کې اټکل کېږي چې په هرو سلو افغانانو کې ۳۵ اوزګار (بېکاره) دي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د کارګرو له نړیوال سازمان سره په ګډه غواړي چې کار پلټونکي له استخداموونکو سره یو ځای کړي.







د کار موندنې مرکز له عادي کار پلټونکو سره مرسته کوي چې استخداموونکو ادارو ته لار ومومي.

د ښځو په پرتله ډېر نارینه په کار پسې ګرځي.



## له هغو سره مرسته چې د کار په لټه کې دي - انځوريزه کيسه



په انګريزي ژبه تسلط د اکثريت مؤسسو د کار شرط دی. د کارموندنې مرکز همدارنګه کار پلټونکو ته په وړيا ډول د انګريزي ژبه ښيي.



اکثرا ښځې د خدماتو په برخه کې په ځانګړې توګه د زدکړو او روغتيا په چارو کې د کار په لټه کې دي.



اوس ښځې هم د نارينه وو په څير په دفترونو کې کار کوي.

*عکاس: اګوستين ويبوو*

# د سیسکو اکاډمۍ افغان ځوانانو لپاره نوي فرصتونه برابروي

په ټول افغانستان کې شاوخوا ۲۰۰۰ ځوانانو د سیسکو له اکاډمۍ نه ګټه اخیستې ده. دغه پروګرام چې په ۲۰۰۲م کال کې د کابل پوهنتون د کمپیوټر ساینس په پوهنځي کې پیل شو د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري او سیسکو د سیستم له خوا په ګډه پر مخ وړل کېږي.

تعلیم او تربیې پوهنتون او د خوست، مزار، هرات او ننګرهار په ولایتونو کې ساحوي اکاډمۍ لري. په پیل کې ۱۷ زده کوونکي په ازمېښتي ډول تر روزنې لاندې نیول شوي وو چې اوس مهال ۹۰۰ زده کوونکی د هېواد په بېلابېلو اکاډمیو کې تر روزنې لاندې دي او ۹۰۰ زده کوونکي لا له وړاندې د معلوماتي ټکنالوجۍ او

دي چې د ښځو ونډه په سلو کې ۵۰ ته ورسول شي.

د افغانستان په بیا رغونه کې ښځو ته د یو برابر حقونو او فرصتونو برابرونه د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې یوه ستره موخه ده. دغه موخه د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ په تګلاره کې په روښانه

معلوماتي ټکنالوجۍ د اساسټو ۱ او ۲ مضمونونه وو. دغه نصاب د وخت په تیرېدو بدلون وموند او اوس CCNA Explorer اوCCNA Discovery هم ورزیات شوي دي. د معلوماتي ټکنالوجۍ د اساساتو په برخه کې هم په دغه ډګر کې بدلېدونکو غوښتنو ته په پام سره ښه والی



*د سیسکو په یوه اکاډمۍ کې ښځې د کمپیوټر پر زده کړه بوختې دي.* © د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره

په ۲۰۰۴م کې د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا اداره د هېواد نورو برخو ته د دغه پروګرام د غځولو لپاره له دې نوښت سره یوځای شوه. د سیسکو د شبکې جوړولو اکاډمۍ د وخت په تیرېدو پراخه شوه او اوس په کابل کې د سیمه ییزې اکاډمۍ تر څنګ د ښځو د چارو وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د مخابراتو روزنیز مرکز، د

شبکې جوړونې په برخه کې فارغ شوي دي. د دغو زده کوونکو په سلو کې ۳۵ نجونې دي. دا په سیمه کې د سیسکو د اکاډمۍ په فارغانو کې د ښځو تر ټولو زیاته شمیره ده او داسې اقدامات تر لاس لاندې

توګه منعکسه شوې او د افغان دولت له خوا هم د یوې مهمې او

**اوس مهال په هېواد کې د سیسکو په بېلابېلو اکاډمیو کې تر ۹۰۰ ډېر زده کوونکي پر زدکړو بوخت دي او ۹۰۰ یې لا له وړاندې فارغ شوي دي**

قطعي موخې په توګه منل شوې ده.

د سیسکو د شبکې جوړونې د پروګرام په نصاب کې په لومړي سر کې CCNA ۱ – ۴ او د

راوستل شوی دی. د بېسیمه شبکې او د شبکې د امنیت په اړه مضامین د کابل په سیمه ییزې اکاډمۍ کې تدریسېږي او د CCNP تدریس به د ۲۰۰۸م له جنون نه پیل شي.

د معلوماتي ټکنالوجۍ په ډګر کې د افغان ښځو د ونډې زیاتولو نوښت

## له ښځو سره د معلوماتي ټکنالوجۍ په ساحه کې مرسته کوي

د معلوماتي ټکنالوجۍ په ډګر کې د افغان ښځو د ونډې زیاتولو نوښت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د مهارتونو په زده کړه او په معلوماتي ټکنالوجۍ کې د یو مسلک په توګه د ښځو د برخې اخیستنې د زیاتولو او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د استعمال له لارې د افغان ښځو د پیاوړي کولو موخه لري. د ۲۰۰۶م د مې په میاشت کې دغې پروژې د کابل پوهنتونو د نجونو په لیلیه کې د معلوماتي ټکنالوجۍ ښه سمبال شوی مرکز پرانیسته چې ۳۰ په خپل منځ کې او له انټرنیټ سره تړلي کمپیوټرونه یې درلودل. دغه نوښت د معلوماتي ټکنالوجۍ روزنه د ښځو د پیاوړي کولو د یوې وسیلې په توګه کاروي او ښځې هڅوي چې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د اساسي او پرمختلیلو مهارتونو د زده کړې له لارې د خپل کار فرصتونه ډیر کړي. د صنعتګرانو، علمي کدرونو، ولسي مشرانو، دولتي چارواکو او پخوانیو او اوسنیو زده کوونکو د ملاتړ د جلبولو له لارې نوموړی نوښت غواړي چې د افغانستان په تحصیلي مؤسساتو کې له نوې ټکنالوجۍ نه د ښځو د ګټې اخیستنې لپاره زمینه برابره کړي. د معلوماتي ټکنالوجۍ په ډګر کې د ښځو د برخه اخیستنې د ودې لپاره د سیسکو اکاډمۍ ښځو ته د سکالرشیف ورکولو او د فیس کمولو نوښتونه ترلاس لاندې نیولي دي.



د نوموړي نوښت یوه ګټه اخیستونکې آغلې غزل توخي ده چې کابل کې اوسېږي او په څلورو خویندو او ورڼو کې تر ټولو مشره ده. نوموړې په ۱۹۸۸م کال کې زیږېدلې او د لومړنیو او منځنیو زدکړو له بشپړولو وروسته اوس د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د انګریزۍ په څانګه کې د دریم کال محصله ده. غزل له یوې ملګرې نه چې د ښځو د چارو په وزارت کې د سیسکو د ښځینه اکاډمۍ زده کوونکې وه د سیسکو په اړه معلومات ترلاسه کړل. غزل وایي چې "دا خبر زما د خوبونو د ریښتیا کېدو په مانا وو ځکه چې کمپیوټر له وړوکوالي زما زړه وړی وو. زه په وړکوالي کې ډېره لېواله ووم او غوښتل مې چې هر څه په زړه پورې کړم. زما ملګرې ماته وویل چې ټولګي ماسپښیني او وړیا دي. دا په اکاډمۍ کې زما د شاملېدو لپاره کافي وو. مور او پلار مې هم راسره مرسته وکړه."

دا د ښځو د چارو په وزارت کې د سیسکو د اکاډمۍ له لومړنیو فارغانو څخه وه. دې ته بلنه ورکړای شوه چې د کابل په سیمه ییزه اکاډمۍ کې د CCNAاو د معلوماتي ټکنالوجۍ د اساساتو د ښوونکو په روزنیز کورس کې ځان شامل کړي. غزل اوس د ښځو د چارو د وزارت په اکاډمۍ کې د ښوونکې دنده ترسره کوي او نورو ښځو ته چې ځینې یې د مور په ځای دي، د معلوماتي ټکنالوجۍ او شبکې جوړونې مهارتونه ورښیي.

غزل د خپل کار په برکت کولای شي چې خپلې شخصي، اقتصادي، ټولنیزې او لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي او له خپلې کورنۍ سره هم مرسته وکړي. د سیسکو د شبکې جوړونې پروګرام غزل د دې وړ کړه چې د معلوماتي ټکنالوجۍ په مهارتونو کې تجربه ترلاسه کړي او د ښوونکې په توګه یې پر ځان باور ډیر شي. غزل خپلې بریاوې او لاسته راوړنې د خدای ورکړه ګڼي او وایي چې د انګریزي ژبې زده کړې یې هم د افهام او تفهیم د یوې وسیلې په توګه ورسره مرسته کړې ده. دا پر شفایي او لیکلي انګریزي باندې د زده کوونکو نه پوهېدل د دوی د زده کړې په وړاندې د یوې سترې ننګونې په توګه په ګوته کوي. غزل وایي " زه د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې، د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې او نورو مرستدویانو مننه کوم چې مور سره په ځانګړې توګه ښځو سره یې د سیسکو پروګرام له لارې د معلوماتي ټکنالوجۍ او شبکې جوړولو په برخه کې د مهارتونو په زده کړه کې مرسته کړې ده. زه له مرستندویانو نه غواړم چې له دغه پروګرام سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي او له ټولو ښځو څخه غواړم چې له دې موقع نه په خپل ژوند کې د ښه والي راوستلو لپاره ګټه واخلي."

S

## د افغان ښځو لپاره د پيوستون لومړنی کنسرټ
## د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د ښه نيت د سفير فرهاد دريا له خوا

نامتو سندرغاړي او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د ښه نيت سفير د مارچ پر ۸مه نېټه د ښځو د نړيوالې ورځ په وياړ د ښځو د مبارزې د ودې په خاطر د ښځو لپاره د پيوستون تر نامه لاندې يو کنسرټ ترسره کړ.

دغه کنسرټ د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي

کنسرټ په کابل کې د سره منسلکو تر ۲۲۰۰ لويې جرګې په خيمه ډيرو ښځو او تر ۵۰۰



کنسرټ کې د ژوندانه د بېلابېلو ساحو ښځو د کور له ښځو نيولې تر وکيلانو له وزيرانو نيولې تر پياده ګانو، له ډيپلوماټانو نيولې تر عادي ساتونکو او له خبريالانو نيولې تر عادي فعالانو پورې برخه اخيستې وه.

د اطلاعاتو او کلتور وزير کنسرټ پرانيست او د ښځو د چارو وزيرې د



*(پاسنی تصوير) فرهاد دريا د سندرې ويلو په حال کې، (منځنی تصوير) په کنسرټ کې ناست ليدونکي، ښکتنی تصوير (د ښځو د چارو وزيره حسن بانو غضنفر © د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره*

اداري د ټولنيز جنسيت د برابرۍ د پروژې د ګډو هڅو په مټ او د برتانيې د نړيوالې پرمختيا د اداري او په کابل کې د هالنډ د سفارت په مالي مرسته ترسره شو. د کانسرټ په اوږدو کې فرهاد دريا د سولې، د ښځو د حقوقو او برابرۍ پيغامونه وړاندې کړل.




کې جوړ شوی و چې د ډيرو نارينه وو برخه ژوندانه له بېلابېلو ساحو اخيستې وه. په

مبارکۍ پيغامونه وړاندې کړل. کنسرټ د خوښۍ او لمانځنې محفل وو او يو قوي پيغام يې درلود چې د افغانستان وېجاړې او ناهيلې هېواد نه بلکې د هيلې، پرمختيا، سولې او ارزوګانو کور دی.

# د ښځو په بڼ کې د ملګرو ملتونو له خوا په ګډه د ښځو د نړيوالې ورځ لمانځنه



د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له غرفې نه کتونکې ليدنه کوي© د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري د ټولنيز جنسيت د برابري، د ځوانانو او د نظم او قانون اماني صندوق پروژو د مارچ پر ۷مه په هغو مراسمو کې برخه اخيستې وه چې د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ادارو له خوا په ګډه په کابل کې د ښځو په بڼ کې جوړ شوي وو. په دغو لمانځنو کې ګڼ شمېر ښځو او نجونو برخه اخيستې وه. د ښځو د چارو او ځوانانو د چارو مرستيال وزيرانو هم په دغو مراسمو کې برخه اخيستې وه او موقع يې درلوده چې د عادي ښځو ستونزې واوري. د ټولنيز جنسيت د برابري پروژې په مراسمو کې د ښځو او ټولنيز جنسيت د مساوات په برخه کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له خوا د ترسره شويو کارونو په هکله معلومات وړاندې کړل. د ښځو، ټولنيز جنسيت او پرمختيا په هکله تبليغاتي توکي پر برخه والو وويشل شول.

## د ښځو د نړيوالې ورځ په هکله نور څو ټکي

د ښځو د نړيوالې ورځ په وياړ، د ښځو د چارو وزارت او د ميرمن ارشادالنسوان ځانګړې ګڼې چاپ کړې وې. د ښځو د چارو وزارت همدارنګه د عامه پوهاوي او تبليغاتي توکي لکه لوحې، بيرغونه، پوسترې او تبليغاتي پاڼې برابرې کړې وې. دغه توکي هم په کابل او هم په ولايتونو کې ويشل شوي وو. د ټولنيز جنسيت د برابري پروژې د ښځو له وزارت سره د پورتنيو توکو د برابرولو او د ښځو د نړيوالې ورځ په وياړ د بېلابېلو مراسمو د تنظيمولو په برخه کې مرسته وکړه. اصلي غونډه د ۲۰۰۸م د مارچ پر ۸مه نېټه د يکشنبې پر ورځ په اماني ليسه کې جوړه شوې وه. غونډه د جلالتماب ولسمشر حامد کرزي له خوا پرانيستل شوه چې لوړ پوړو دولتي چارواکو، د ملي شورا غړو، ډيپلوماټانو، د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ادارو استازو او د مدني ټولنې غړو په کې برخه اخيستې وه. کرېسټوپر اليکسينډر، د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستيال په غونډه کې د ملګرو ملتونو د کورنۍ استازيتوب وکړ.

غونډه د جلالتماب ولسمشر حامد کرزي له خوا پرانيستل شوه چې لوړ پوړو دولتي چارواکو، د ملي شورا غړو، ډيپلوماټانو، د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ادارو استازو او د مدني ټولنې غړو په کې برخه اخيستې وه.

**د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره د ملګرو ملتونو هغه نړيواله پرمختيايي شبکه ده چې د بدلون په لار کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي او د ولسونو د ښې راتلونکې لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچينو سره تړي.**

Afghanistan

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې کار ته عمومي کتنه

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره له ۱۹۵۶م کال راهيسې په افغانستان کې شتون لري، چې د پرمختيايي مرستې تر څنګ د ملي بسټونو د ظرفيت په لوړولو کې ورسره مرسته کوي. د طالبانو په رژيم کې د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې اسلام اباد ته د بېځايه شوو دفترونو له لارې په ټول افغانستان کې له افغانانو سره مرستې ته ادامه ورکړه. په دغه لسېزه کې، د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې په افغانستان کې ۲۰۰ ميلونه امريکايي ډالر مرسته ولګوله. د ۲۰۰۲م کال په سر کې د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې په کابل کې خپل نوی دفتر پرانيست.

د افغانستان په وړاندې ستري بشري پرمختياي ننګونې پرتې دي. د افغانستان د بشري پرمختيا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ له مخې، افغانستان د بشري پرمختيا په لړليک کې د نړی په ۱۷۸ هېوادونو کې ۱۷۳م هېواد دی او د زريزې د پرمختيايي موخو شاخصونه يې د افريقا د صحرا تر ډېرو هېوادونو ښکته ځای کې ښيي. په افغانستان کې د بې وزلې ژورتيا د بشري پرمختيا په ټولو شاخصونو کې په ثابته توګه جوته ده او د داسې يو هېواد په توګه يې په ګوته کوي چې دوامداره مرستې ته اړتيا لري. له همدې امله، بې له ايرانتيا، د زريزې د پرمختيايي موخو لاسته راوړنې لپاره افغانستان د نړيوال لومړيتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه ماموريت او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي مرستې په چوکاټ کې کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې د ۲۰۰۵م کال په ډيسمبر کې له افغان دولت سره درې کلن کاري پلان لاسليک کړی چې پر درې پرمختيايي ساحو تمرکز کوي: دولت جوړونه، ولسواکي او د مدني ټولنې ځواکمنول او پايښدونکی معيشت. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې پروګرام کې د ظرفيت لوړولو، ملي مالکيت او د تګلارو په هکله بحث ته پام اړول شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره تر هغې کچې د دولت د بنيادي کاري ظرفيت لوړول غواړي چې عامه خدمتونه په مساويانه او پايښدونکې توګه وړاندې کړای شي او د مشروع معيشت لپاره يو مناسب چاپېريال رامنځته کړي.

په پام کې نيول شوې پايلې د افغانستان د مؤقتې ملي پرمختيايي تګلارې له موخو او شاخصونو سره سم تعقيبيږي. د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره له دولت سره، په ځانګړې توګه د لاندې ډګرونو، د يو لړ پرمختيايي موخو په لاسته راوړنه کې مرسته کوي: امنيت او د قانون واکمنی، اداري سمون، روڼتيا او حساب ورکول، محلي اداره، سياسي بهير (ټاکنې او پارلمان)، د مدني ټولنې ځواکمنول، د ښځو او نارينه وو برابری، بشري حقوق، چاپېريال او کليواله انرژي، په ټولنه کې د پخوانيو وسله والو ميشته کول، د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې د ملي تګلارې پلي کول او همدارنګه د کليوالي پرمختيا پلان جوړول او د خصوصي سيکتور پرمختيا.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره ټول کارونه له افغان دولت، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او په پرمختيايي چارو کې ښکيلو مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې له يو شمېر دولتي ادارو لکه د ماليې وزارت، د کليو د بيارغونې او پرمختيا وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د ملکي خدمتونو کمېسيون، د ټاکنو خپلواک کمېسيون، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمېسيون او د ښځو د چارو له وزارت سره په ستراتيژيکه توګه ګډ کار کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې ته تر ټولو لس ستر مرسته ورکوونکي، د امريکا متحده ايالات، اروپايي کمېسيون، جاپان، کاناډا، برېتانيا، هالنډ، ايټاليا، جرمني، ناروې او نړيوال بانک دي.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره د افغان او نړيوالو پرمختيايي شريکانو د ملاتړ او باور مننه کوي.


**د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره، شاه محمود غازي واټ، کابل، افغانستان**

د ټيليفون شمېره: ۴۰۰۰ ۲۱۲ ۲۰ (۰) +۹۳ يا ۴۰۷۶ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+

**د دې موضوعاتو په هکله د لازياتو معلوماتو د غوښتنې او يا د مرستې کولو لپاره:**

کومار ټيکو، د اړيکو د څانګې مشر ( kumar.tiku@undp.org )

فضه حسيني، د عامه اطلاعتو مسؤوله (fezeh.hosseini@undp.org)

www.undp.org.af